Social Science AcademicJournal

لېډ د ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د هدایت لاملونه د (البقرة) سورت په رڼاکې

**پوهنیار ملاعبدالاحد (رفیقي)**

د اسلامي زده کړو  څانګه. د شرعیاتو پوهنځی. پوهنتون. فراه.  افغانستان.

ایمیل: Rafiqimujeb@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۹/۱۳ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹،   مخونه :۱۴۵-۱۵۸

**لنډیز**

څېړنه د قرآن کریم د البقرة سورت په رڼا کې د هدایت مفاهیم، ډولونه او لاملونه څېړي، په پیل کې هدایت د لغوي او اصطلاحي اړخونو څخه تعریف سوی او د البقرة سورت د نوم وجه تسمیه بیان سو، هدایت د درېو مهمو ډولونو په توګه تحلیل سوی، البقرة سورت د قرآن کریم له مهمو سورتونو څخه ده چې د انسان د هدایت لپاره بنسټیز اصول وړاندې کوي، په دې سورت کې هدایت د الله تعالی له لوري یو ستر الهي نعمت بلل سوی، خو دا نعمت هغو کسانو ته ورکول کېږي چې د هدایت اساسي شرایط پوره کړي، هدایت متقینو پر غیب ایمان لري، لمونځ کوي، له خپل مال څخه انفاق کوي،  پر اسماني کتابونو ایمان لري او پر آخرت یقین لري، انسان د الله تعالی د رضا او سمې لارې لور ته رهبري کوي.

**کلیدي کلمې:** البقرة، رڼا، سورت، لاملونه، هدایت.

# أسباب الهداية في ضوء سورة البقرة

**بوهنيار ملا عبدالأحد (رفيقي)**

قسم الدراسات الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة فراه، فراه – أفغانستان

Email: Rafiqimujeb@gmail.com

**ملخص**

تتناول هذه الدراسة العلمية مفاهيم الهداية وأنواعها وأسبابها في ضوء سورة البقرة من القرآن الكريم. في البداية تم تعريف الهداية من الناحيتين اللغوية والاصطلاحية، كما بُيِّن سبب تسمية سورة البقرة بهذا الاسم. ثم تم تحليل الهداية إلى ثلاثة أنواع رئيسة. وتُعد سورة البقرة من أهم سور القرآن الكريم التي تشتمل على مبادئ أساسية لهداية الإنسان. وفي هذه السورة تُعد الهداية نعمة إلهية عظيمة من الله تعالى، لكنها لا تُمنح إلا لمن تتوفر فيهم شروط الهداية الأساسية. وتظهر من الآيات الأولى من السورة أن الهداية خُصَّت بالمتقين؛ وهم الذين يؤمنون بالغيب، ويقيمون الصلاة، وينفقون مما رزقهم الله، ويؤمنون بالكتب السماوية، ويوقنون بالآخرة. وتُعد هذه الصفات من أهم أسباب الهداية، وهي التي تقود الإنسان إلى رضا الله تعالى والطريق المستقيم.

**الكلمات المفتاحية:** البقرة، **أسباب**، السورة، **ضوء**، الهداية.

## سریزه

الحمدلله الذي هدانا للايمان، وأنزل الينا الكتاب هدى ورحمة للعالمين، وجعل القرآن شفاء لما في الصدور  وهدى وبشرى للمؤمنين، والصلاة والسلام على من بعثه الله هاديا ومبشرا ونذيرا، و داعيا الى الله باذنه وسراجا منيرا، نبيا محمد وعلى آله واصحابه أجمعين و من تبعهم  باحسان الى يوم الدين.

امابعد! ﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾سورة البقرة، الآية:۲).

الحمدلله الذي هدانا للايمان، وأنزل الينا الكتاب هدى ورحمة للعالمين، وجعل القرآن شفاء لما في الصدور وهدى وبشرى للمؤمنين، فقال الله في كتابه العظيم ﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾ سورةالبقرة،الآية:۲). والصلاة والسلام على من بعثه الله هاديا ومبشرا ونذيرا، و داعيا الى الله باذنه وسراجا منيرا، نبيا محمد وعلى آله واصحابه أجمعين.امابعد! فان الهداية من اعظم بعم الله على العبد و قد بين الله تعالى في سورة البقرة اسبابها لمن اراد سلوك الصراط المستقيم. هدايت د انسان د سعادت او نېکمرغۍ بنسټ بلل کېږي، ځکه چې د انسان حقيقي بريا هغه وخت ترلاسه کېږي کله چې د حق او باطل ترمنځ توپير وپېژني او د سمې لارې پيروي وکړي، الله تعالى د بشريت د لارښوونې لپاره قرآن کريم نازل کړی، څو انسانان د جهل، گمراهۍ او اخلاقي انحراف له تيارو څخه د ايمان، علم او هدايت رڼا ته وباسي، قرآن کريم يوازې د تلاوت کتاب نه دی، بلکې د ژوند بشپړ نظام او لارښود دی چې د انسان د عقيدې، عبادت، اخلاقو او ټولنيز ژوند لپاره واضح اصول بيانوي، له همدې امله قرآن کريم د هدايت سرچينه گڼل کېږي او هغه څوک چې په اخلاص او صداقت سره د دې کتاب لارښوونې ومني، د حق لارې ته رهنما کېږي. د قرآن کريم له سورتونو څخه يو البقرة سورت دی، چې د قرآنکريم له اوږدو سورتونو څخه شمېرل کېږي او گڼ شمېر عقيدوي، عبادي او ټولنيز احکام پکې بيان شوي دي، دا سورت د اسلامي ژوند د مهمو اصولو تشريح کوي او د انسان د ايمان د پياوړتيا لپاره مهمې لارښوونې وړاندې کوي، په دې سورت کې د ايمان، تقوا، صبر، انفاق، عبادت او د الله تعالى د اوامرو د پيروۍ په اړه مفصل بيان راغلی دی، همدارنگه په دې سورت کې د هدايت او ضلالت ترمنځ توپير په روښانه ډول بيان سوی او انسانانو ته ښودل سوې چې کوم صفات د هدايت سبب گرځي او کوم اعمال انسان له حق لارې څخه لېرې کوي، د سورت له پيل څخه څرگنديږي چې قرآن کريم د متقينو لپاره هدايت دی، يعنې هغه کسان چې د الله تعالى له وېرې سره ژوند کوي او د هغه د احکامو اطاعت کوي، متقين هغه خلك دي چې پر غيب ايمان لري، لمونځ قائموي، د الله تعالى له ورکړل شويو نعمتونو څخه د خير په لاره کې لگښت کوي او پر آخرت يقين لري .دا صفات د هدايت بنسټيز عوامل گڼل کېږي، ځکه چې ايمان، عبادت او نېک عمل د انسان زړه روښانه کوي او هغه د الله تعالى د رضا لور ته رهبري کوي، په همدې اساس د هدايت اسباب د قرآن کريم په رڼا کې په ځانگړي ډول په البقرةسورت کې په واضح ډول بيان سوي دي، دا اسباب د انسان د فردي او ټولنيز اصلاح لپاره مهم رول لري او مسلمان ته دا لارښوونه کوي چې څنگه د ايمان، تقوا، صبر او نېکو اعمالو له لارې د الله تعالى هدايت

ترلاسه کړي .نو د دې موضوع څېړنه ځکه مهمه ده چې انسان د هدایت حقیقي لارې وپېژني او خپل ژوند د قرآن کریم د لارښوونو مطابق تنظیم کړي، څو د دنیا او آخرت بریا ترلاسه کړي.

## د څېړنې ستونزه

هدایت د انسان له فطري او اساسي اړتیاوو څخه دی چې له لارې یې انسان دخپل رب پېژندلو حق قبلولو او نېک ژوند ته رسیږي. دا الهي نعمت د الله تعالی له لورې خاصو بندګانو ته ورکول کېږي، او قرآن کریم دا هدایت د انسان د دنیا او آخرت د بریا کلید ګڼلی دی. هدایت یوازې فکري پوهه نه ده، بلکې یو روحاني رڼا ده چې الله هغه چاته ورکوي چې زړه یې پاک، نیت یې اخلاص، او عمل یې نېک وي.

## د څېړنې موخې

اصلي موخه

د البقرة سورت په رڼاکې د هدایت بنسټیز لاملونه پېژندل او علمي ډول تشریح کول.

فرعي موخې

1. د هدایت مفهوم او ارزښت یې د البقرة سورت له آیاتونو څخه څرګندول.
2. هغه صفات بیانول چې د هدایت سبب ګرځي، لکه ایمان، تقوا، لمونځ او انفاق.
3. د متقینو صفات او دهغو د هدایت لاملونه تشریح کول.

## د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه

د البقرة سورت په رڼاکې د هدایت مهم لاملونه کوم دي؟

فرعي پوښتنې

1. د هدایت مفهوم او ارزښت د البقرة سورت له آیتونو څخه څنګه څرګندیږي؟
2. د البقرة سورت له مخې کوم صفات د هدایت سبب ګرځي.
3. د متقینو صفات چې د هدایت سبب ګرځې په البقرة سورت کې کوم دي؟

## د څېړنې میتود او کړنلاره

دا څېړنه د توصیفي ـ تحلیلي منهج پر بنسټ ولاړه ده، چې له مخې یې د قرآن کریم د البقرة سورت آیتونه د هدایت د موضوع په اړه را ټولیږي او بیا د تفاسیرو له مخې تحلیلیږي. د څېړنې فرضیې، احتمال سته چې د هدایت اصلي لاملونه د الله تعالی له لورې ټاکل سوي، د انسان لپاره د قرآن، ایمان، تقوا او

عمل صالح له لارې ترلاسه کېږي، البقرة سورت هدایت د متقینو، مؤمنینو او مخلصو بندګانو ځانګړې نښه ګڼي، هدایت د انسان د فکري، روحاني، او عملي اصلاح لامل ګرځي، هغه ټولنه چې د هدایت اصول خپل کړي.

**د څېړنې شالید**

البقرة سورت د اسلامي ټولنې د فکري او تشریعي جوړښت بنسټیز سورت دی چې د هدایت او ضلالت معیارونه پکې په تفصیل بیان سوي دي، دا سورت څرګندوي چې قرآن د متقینو لپاره د هدایت سرچینه ده او دهدایت د ځانګړو صفاتو او اعمالو له لارې تر لاسه کېږي. په دې کې د ایمان، تقوی، صبر، انفاق او د الهي اوامرو اطاعت د هدایت اساسي لاملونه ښوول سوي دي. البقرة سورت ښيې چې هدایت عقیده او عمل دی، په مقابل کې کفر، نفاق او تکبر دبې لارې کېدو اسباب معرفي کوي، له همدې امله البقرة سورت د هدایت د اصولو یو جامع منهج وړاندې کوي چې د امت فکري او عملي لارښوونه کوي.

**د څېړنې موندنې**

هدایت په لغت کې، لارښونه په نرمي سره د موخې او مقصد خواته، د عمل یا د خبرو له لارې(الهدایة في اللغة الإرشاد بلطف إلى المقصود، سواء كان ذلك بالفعل أوبالقول.(اصفهانی،۱۴۳۰، ص۵٦). (هدی للمتقین) هدایت هغه لارښوونه ده چې انسان خپل موخې ته رسوي.( فخرالرازي، ۱۴۰۱، ج۲ ص۲٦۷).

(سورة) جدای ته وایې، یو سورت د بل سورت څخه جلا والی او څرګندوالی ته ویل کېږي. دا ځکه سورة ورته ویل سوې چې په دې کې د مقام لوړوالی یا لوړ منزلت څرګندېږي. (قرطبي، ۱۴۰۱،ج۱ ص٦۵). او په اصطلاح کې: هغه ټاکل شوې برخې ته وایي چې د ځانګړي نوم سره د نبي صلی الله علیه وسلم له لوري ټاکل شوې وي، یا هغه د قرآني آیتونو یوه مجموعه ده چې یو له بله سره راټوله سوې وي او یو ځای سوې وي.( ابوشهبه، ۱۴۲۳، ج۲ ص۲۸۵). د البقرة د تسمیې وجه او دي نوم دا سورت منسوبه سوې ځکه چې هغه ځمکه شکوي. (البقرة) أَنَّ الْبَقَرَ سُمِّيَتْ لِأَنَّهَا تَبْقُرُ الْأَرْضَ) (ابن فارس، ۱۴۲۸، ج۱ ص۲۸۰). البقرة هغه ښځینه حیوان دی چې د بقر له اصل څخه اخیستل سوې.(بغوي، ۱۴۲۰، ج۱ ص۱۲۷). د سورت نوم په البقرة له دې لپاره ایښودل سوی چې د هغه ستر معجعزې یاد تازه وساتې، کومه چې د یوې غوا د حلال لولو له لارې را منځته سوه، او دا یوه ښکاره نښه وه د الله تعالی له لوري. (صابوني، ۱۴۳۸، ج۱ ص۳۱). مطلب: ټول سورت په بقره و نومول شو،

ځکه چې "بقرة" د دې سورت مشهوره جزء دی، همدارنګه دا قصه د سورت له مشهور محتوا څخه ده، نو د کل سورت نوم پرې کېښودل شوی. (لامل یعني(سبب) د وسیلې په معنا دی. ( السبب کل ما یتوصل به الی غیره)(ابن منظور، ۱۴۱۴، ج۱ ص۴۵۸). (هدایت) د لارې ښودلو، لارښوونې او سمې لارې ته وایي. (راغب، ۱۴۳۰. ص۵۳۸). (ضوء) د نور او ځلا معنا لري.( ابن منظور، ۱۴۱۴، ج۱۵ ص ۲۲۲).

**د هدایت ډولونه**

حقیقي هدایت هغه دی چې له الله تعالی څخه وي، او دا په بېلابېلو مرتبو وېشل سوې دی:

۱. عمومي هدایت ټولو مخلوقات ته شامل دی، لکه جمادات، نباتات او حیوانات، تعالی هر شي ته یې خپل ځانګړی جوړښت ورکړی، بیا یې هدایت کړي. دا هدایت ټولو موجوداتو ته شامل دی، چې د انسان عقل د هغه د درک توان نه لري.

۲. هدایت د ګمراهي ضد دی. دا هدایت هر انسان ته ورکول کیږي، که څوک دا ومني، مؤمن ګڼل کیږي، او که یې ونه مني، کافر شمېرل کیږي. هر انسان داسې پیدا کیږي چې هېڅ نه پوهېږي، نو اړتیا لري چې یو څوک یې هدایت کړي، یعنې: هغو کسانو ته چې هدایت یې غوره کړی، الله تعالی هدایت ورکړی او هغوی ته یې تقویٰ ورکړی.

۳. ځانګړی هدایت د مؤمنانو لپاره، دا هدایت د توفیق سره تړلی دی، یعنې الله تعالی بنده ته اسباب او حالات برابر کړي تر څو هغه هدایت ومومي، او الله هغه ته توفیق ورکړي چې د نازل شوي وحی (قرآن) مطابق عمل وکړي. یعنې: "څوک چې پر الله ایمان راوړي، الله یې زړه ته هدایت ورکوي.(فالهدایة العامة تشمل جمیع المخلوقات من الجمادات والنباتات والحیوانات الهدایة هي ضد الضلالة، هذه الهدایة تعطي لکل انسان اذا قبلها یعد مؤمنا و اذا لم یقبلها یعد کافرا فکل انسان یولد لایعرف شیئا فیحتاج الی من یدله الهدایة خاص بالمؤمنین هذه الهدایة مرتبطة بالتوفیق ای ان الله تعالی یهیئ الاسباب والاحوال للعبد لیهتدي ویوفقه للعمل) (عثمانی، ۱۴۴۰ه ق،ج۱ ص۶۸).

**هدایت په تقوا سره**

هدایت، یوازې د هغو کسانو لپاره دی، چې تقوا لري اوحق منلو ته چمتو وي.﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾[سورة الْبَقَرَة، الآية: ۲]. ژباړه: دا هغه کتاب دی، چې په کې هېڅ شک نسته، دا د متقیانو لپاره هدایت دی. په هدی کلمه کې اشاره ده چه دا کتاب سراسر هدایت دي، (هُدًى) لفظ یې نکره راوړه ځکه تنوین تنکیر د تعظیم لپاره دي. یعنی دا کتاب عظیم هدایت دي. هره مسئله او هره

قصه او واقعه يې هدايت دي، د هدايت هيڅ کمې پکښې نسته. قرآن کريم هر څوک لولي تر دې چي کفارو هم پکښې (پي،ايچ،ډي) کوي، ليکن هغوي د هدايت فائده ورڅخه نه اخلې ځکه چي تقوى (د الله ويره) پکښې نسته. لومړي اشاره دا سوه چی تقوى ځان کې پيدا کړي، چي دا کتاب تاسوته فائده ورسوي. مراد د متقينو څخه هغه متقين دې چي د الله ويره يې په زړه کې وي( ابومحمد، ۱۴۳۰ه ق،ج۱ ص ١٦٠). مطلب، : که څوک غواړي چې هدايت تر لاسه کړي، بايد تقوا خپل کړي او له گناهونو ځان وساتي، ځکه هدايت يوازې پاک زړونو ته لاره مومي.

**هدايت د غيبي ايمان په وسيله**

کله چې دا آيت نازل سو ﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ﴾ [سورة البقرة، الآية:۳]. يهودو او نصارا وو وويل: موږ په غيب ايمان لرو. کله چې دا آيت نازل سو: {وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ}سورةالبقرة: ۳). نو هغوی وويل: موږ لمونځ کوو. خو کله چې دا آيات نازل سو: {وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} البقرة: ۳. نو هغوی وويل: موږ انفاق کوو او صدقه ورکوو. خو کله چې دا آيت راغی: ﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾[سورة البقرة،الآية:۴]. نو هغوی ترې مخ واړاوه (ناراضه سول). او د الله تعالی دا قول: ﴿وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾[سورةالبقرة، الآية: ۴] يعني دوی په قيامت، جنت، دوزخ، بيا راژوندي کېدلو، حساب ورکولو او ميزان (ترازو) باندې باور لري. (لمانزلت هذه الآية ﴿الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ﴾[سورةالْبَقَرَةِ،الآية:۳] قالت اليهود والنصارى نحن آمنا بالغيب فلما قال: ﴿وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ﴾[سورةالْبَقَرَةِ،الآية:۳]. قالوا نحن نقيم الصلاة فلما قال ومما رزقناهم ينفقون قالوا: نحن ننفق ونتصدق. فلما قال ﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ الْبَقَرَةِ: ۴). نفروا من ذلك. وقوله ﴿وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾ [سورة الْبَقَرَةِ،الآية:۴] أى يقرون يوم القيامة والجنة والنار والبعث والحساب والميزان). (سمرقندي، ۱۴۱۳ ه ق، ج۱ ص۲۳).

غيب هر هغه څه دي چې رسول الله( صلى الله عليه وسلم) پرې خبر ورکړی وي، له هغو شيانو څخه چې عقلونه يې پخپله درک نسي کولای؛ لکه د قيامت نښې، د قبر عذاب، حشر، نشر، صراط، ميزان، جنت او دوزخ. دا هغه شرعي ايمان دی چې د جبرئيل (عليه السلام) په حديث کې ورته اشاره سوې، کله چې يې له نبي (صلى الله عليه وسلم) نه وپوښتل: ايمان څه شی دی؟ هغه وفرمايل: دا چې ايمان راوړې پر الله، د هغه پر ملايکو، کتابونو، د آخرت پر ورځ، او ايمان راوړې پر تقدير، که خير وي که شر. جبرئيل وويل: سم دې وويل: الله تعالی له نظرونو پټ دی، خو د عقل او استدلال له لارې پټ نه دی. مؤمنان باور لري چې هغوی يو رب لري، چې قادر دی، د اعمالو جزا ورکوي، او دوی يې د زړه

په پټه هم ویره لري، ځکه پوهیږي چې الله تعالی ترې باخبره دی. (قرطبي،۱۴۰۱ ه ق، ج۱ ص۳ ).
دغه آیت عام دی، هر هغه څوک پکې رانغښتی سوی چې پر محمد (صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړي، که له دې وړاندې یې پر موسی او عیسی (علیهما السلام) ایمان درلود او که نه یې درلود. الله تعالی مسلمانان په دې سره ونازول، چې ویې فرمایل: ﴿هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾. یعني دا (قرآن) د پرهیزګارانو لپاره هدایت دی، هغه څوک چې پر غیب ایمان لري. (فخر رازی، ۱۴۱۱ق، ج۲ ص۲۷۷). مطلب داسي دی، چې انسان هغه وخت د هدایت لارې ته رسیږي، چې پر غیب ایمان ولري، ځکه د الله تعالی حقایق یوازې د حواسو له لارې نه درک کېږي، بلکې تسلیم او یقین ته اړتیا لري. قرآن کریم د غیب پر ایمان راوړل د هدایت لومړی دروازه ګرځولې، لکه چې په پورتني آیت کې راغلي. هدایت یو نور دی چې الله تعالی یې د هغه چا په زړه کې اچوي، څوک چې پر الله ایمان راوړي او پر هغه څه تصدیق کوي چې الله خبر ورکړی، که څه هم هغه یې په سترګو نه وي لیدلی، ځکه غیب د ایمان لپاره اصلي آزموینه ده. څوک چې پر غیب ایمان ولري، هغه د دین نورو احکامو منلو ته چمتو وي، خو څوک چې پر غیب ایمان نه لري، نه د الله شریعت مني، نه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اطاعت کوي او نه د طاعت پر لاره دوام کولی سي.

**هدایت د لمانځه له لارې.**

هدایت سوي کسان لمونځ قائموي.﴿وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ﴾[سورةالْبَقَرَةِ،الآية:۳]. لکه څنګه چې لمونځ ځانګړی اغېز لري. انسان د اړتیاوو پوره کولو او ستونزو لیرې کولو کې، که څه هم د دې اغېز لامل معلوم نه وي، همدارنګه ډېر درمل دي چې ځانګړی اغېز لري پر ځینو ناروغیو، که څه هم د طب یا تجربي علم له اړخه یې علت نه وي معلوم، خو بیا هم ځانګړی تاثیر لري، لکه هغه درمل چې د زړه، سردرد، بندونو درد یا د پړسېدو لپاره ګټور وي، که څه هم د دې اغېز لامل نه وي څرګند. همدا شان لمونځ دی، چې ځانګړی تاثیر لري په اړتیاوو پوره کېدو او له سختیو خلاصولو کې، خو دا شرط لري چې لمونځ باید د ادب، خشوع او خضوع سره ادا شي. هغه لمونځ چې پرته له خشوع او خضوع وشي، یوازې یوه بڼه وي، روح نه لري، نو اغېز یې نه ښکاري. د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت دا و، چې کله به پرې کومه مهمه ستونزه راغله، نو ژر به لمونځ ته ولاړ، یعني لمونځ ته به یې پناه یووړه، او د همدې برکت له امله به یې خپلې اړتیاوې د الله تعالی په دربار کې وړاندې کولې. (عثمانی، ۱۴۴۰ه ق، ج۱ ص۴۰). هدایت د لمانځه په عمل کې دا معنا لري چې الله تعالی انسان د ښو او مناسب کارونو کولو ته هدایت کوي، دا هدایت د انسان لارښوونه ده د ایمان، تقوا، او هغو اعمالو پر لور چې د الله

رضا پکې وي. بله معنا داده چې الهي هدايت انسان له ضلالت ژغوري، د کمال پر لور يې بيايي. ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾[سورة بقرة، الآية: ٢٧٧]. مطلب داسي دی، چې لمونځ د يو مومن لپاره د الله سره اړيکه ده، او هدايت ته د رسېدو يو ثابت، عملي، او بابرکته عمل دی.

**عقل سبب د هدايت**

الله تعالی د عقل په اړه فرمايي: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنْزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ [سورة الْبَقَرَةِ، الآية: ١٦٤]

ژباړه: د آسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې، د شپې او ورځې په يو بل پسې راتګ کې، په کښتيو کې چې د خلکو د ګټې لپاره په بحر کې چلېږي، او هغه اوبو کې چې الله له آسمانه را نازل کړې او پرې يې مړه ځمکه را ژوندي کړې، او په هغې کې يې له هر ډول ژويو خپاره کړي، او د بادونو په چورلېدو او د وريځو په (تسخير) تابع والي کې چې د آسمان او ځمکې ترمنځ دي، بېشکه پدې ټولو کې نښې دي د هغو خلکو لپاره چې عقل کاروي.

الله سبحانه وتعالی يادونه کړې ده چې په بادونو د تسلط (چورلول) او د وريځو د روانولو (سير) کې نښې دي، خو هغه يې يوازې د عقل لرونکو خلکو لپاره ځانګړې کړې، چې له دې څخه دا ښکاري چې څوک خپل عقل نه کاروي، هغوی له دغو نښو هېڅ ګټه نشي اخيستی(فالله سبحانه وتعالی ذکر ان في تصريف الرياح وتسييرالسحاب آيات لکنه خص العاقلون بالانتفاع بهذه الآيات ممايدل على ان من لا يستعمل عقله لاينتفع بالآيات. (عثمانی، ١۴۴٠ه ق، ج١ ص ۵٠). مطلب دا چې عقل د هدايت وسيله ده، الله تعالی انسان ته عقل ورکړی چې حق وپېژني او هدايت ومومي. څوک چې عقل نه کاروي، هغوی د ضلالت په تيارو کې پاتې کېږي.

**په عدل او انصاف کې هدايت**

الله تعالی په سورت البقره کې هدايت د عدل او انصاف له لارې معرفي کوي. ﴿كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ.لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِي مَا اخْتَلَفُوا فِيهِ﴾ [سورة البقرة، الاية: ٢١٣ ]. ژباړه: خلک يو امت وو، الله انبيا مبعوث کړل چې زېری ورکړي او وېرونه وکړي... ترڅو د خلکو ترمنځ انصاف وکړي. ای مؤمنانو! کله چې تاسې يو له بله پور واخلئ تر ټاکلي وخت پورې، نو هغه

ولیکئ، او باید یو لیکوال ستاسې ترمنځ دا (معامله) په انصاف ولیکي، او لیکوال باید له لیکلو څخه انکار ونه کړي، لکه څنګه چې الله تعالی هغه ته (د لیکلو) علم ورکړی دی. ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ﴾ [سورةالبقرة،الآية: ۲۸۲] مطلب، شریعت او احکام د عدل لپاره راغلي، په البقره کې الله تعالی صدقه او قرض ورکول د ثواب، قربت او عدل یوه برخه ګڼي، هدایت هغه وخت پوره تحقق مومي چې انسان عدل غوره کړي، له ظلم او نابرابرۍ ځان وژغوري او د الله له امرونو سره سم ژوند وکړي.

## هدایت په لګښت (مصرف) کې

هغه کسان چې موږ هغوی ته مالونه ورکړي، په نېکو چارو او احسان کې یې لګوي او صدقه کوي، او دا آیت عام دی چې زکات، صدقه او ټول مشروع لګښتونه رانغاړي. (الذين أعطينا هم من الأموال ينفقون ويتصدقون في وجوه البر والإحسان، والآية عامة تشمل الزكاة والصدقة وسائرالنفقات). (صابوني، ۱۴۳۸ ه ق، ج ۱ ص۲۶). ﴿وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ﴾ [سورةالْبَقَرَةِ،الاية: ۳ ] ژباړه: او له هغه څه نه چې موږ ورکړي، (په نېک کارونو کې) لګښت کوي. دوی لګښت کوي له هغه مال څخه چې الله تعالی ورکړی دی، په هغو چارو کې چې الله پرې امر کړی دی، لکه زکات، جهاد، حج، عمره او لګښت پر هغو کسانو چې لګښت پرې واجب دی، نو دوی خپل حقونه ادا کوي. (طبري، ۱۴۲۲ه ق،ج ۱ ص۳۸۸) ای مؤمنانو! لګښت وکړئ له هغه څه چې موږ درکړي دي، له هغې ورځې مخکې چې نه به پکې سودا وي، نه دوستي او نه شفاعت (ورېا مرسته)، او کافران هماغه ظالمان دي﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ [سورة البقرة، الآية ۲۵۴]

## هدایت په وحي کې

د وحی په اړه الله تعالی فرمايي﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ [سورة الْبَقَرَةِ،الآية: ۴]. الله تعالی د هدایت لرونکو کسانو اوصاف ذکر کوي، ایمان په غیب لري(په حضور (صلی الله علیه وسلم) چې څه نازل سوي په هغه ایمان لري، په آسماني کتابو ایمان لري.

په آخرت یقین لري، نیک عمل ترسره کوي، د بدو او حرامو کارونو څخه ځان ساتي، دا کسان هدایت لرونکي دي چې د الله له لوري ورته نُور ورکړل سوي دي او بصیرت ورته حاصل دی او د دې کسانو لپاره د دنیا او اخرت ګټه ده. ابن عباس د هدایت تفسیر په نور او استقامت سره کړي دی او د فلاح تفسیر یې د خپلې خوښې موندل او د بدو څخه ځان ساتل کړي. چې دا کسان د خپل رب له مهرباني

 څخه ثابت قدمی، رښتينولی، او توفيق کې په حقه باندې دي او دا کسان د خپلو دې پاکيزه اعمالو له وجه د نجات، ثواب او دائمي جنت موندلو مستحق دي او د عذاب څخه محفوظ دي.( ابو الفداء، ۱۴۱۹ه ق، ج ۱ ص۱۱٦).

**هدايت د اسلام په دين کې**

الله تعالی خپل رسول ته دين ورکړی، چې تابعداري يي، هدايت دی، د (هُدَی) څخه مراد د الله تعالی دين دی (هُوَ الْهُدَی) همدا حق دين دی، په دې کې د حصر معنا ده يعني همدا حق دين دی، هغه نور کتابونه لکه تورات او انجيل په هغو کې تحريفات سوي. دا د ليل دی چې د اسلام دين حق دی ټوله اديان په دې حق دين سره منسوخ سوی دي.( ابومحمد، ۱۴۳۰، ج ۱ ص٦۷)

الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى﴾سورةالبقرة،الآية:۱۲۰). ژباړه: ووايه (ای محمده!): بېشکه د الله هدايت همدا (رښتينی) هدايت دی﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ﴾ [سورةالبقرة، الآية: ۱۷۰].

ژباړه: کله چې هغوی ته وويل سي: (تاسو پيروي وکړئ د هغه څه چې الله تعالی نازل کړي دي)، دا آيت د هغو کسانو د حال بيان کوي چې د عقل او وحی پر ځای د ناپوهو تقليد ته ترجيح ورکوي﴿ وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُوا قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ [سورةالبقرة،الاية:۱۳۵].

ژباړه: يهودواو نصارا وو ووېل راسی يهود او نصارا سي چې هدايت ومومئ. الله تعالی رسول الله ته فرمايي ووايه (ای محمد): موږ پيروان يو) د ابراهيم (عليه السلام) د دين، چې مايل د حق ته وو، هغه د هدايت دين دی.

هدايت په يهوديت يا نصرانيت کې نه دی. اصلي هدايت د توحيد او د ابراهيم عليه السلام د دين پيروي ده﴿ فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ [سورةالْبَقَرَة: ۱۳۷]. هدايتِ حقيقي دا دي چې د الله او د رسول (صلی الله عليه وسلم) اطاعت وسي، د هغوی امرونه ومنل سي او د نبي (صلی الله عليه وسلم) سنت ته اقتداء وسي. کله چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يهودو ته د ايمان او د قرآن پيروي دعوت ورکړ، هغوی وويل: «نه، موږ به د خپلو پلرونو لاره تعقيبوو، ځکه چې هغوی له موږ نه ښه او پوه وو.» نو الله تعالی دوی ته په دې ډول ځواب ورکړ: «ايا هغوی به د خپلو پلرونو پيروي کوي، حتی که هغوی هيڅ عقل نه لري او سمه لاره نه وي پېژندلې.(نسفي، ۱۲۷۹، ج ۱ ص۸۹). دا آيت د تقليدِ کورکورانه رد کوي. يهود خپل ناسم دودونه له پلرونو اخيستي وو او د اصلاح لپاره تيار نه وو. الله

فرمایي چې هدایت دا نه دی چې انسان د ناپوهه پلرونو تقلید وکړي، بلکې هدایت دا دی چې الله، رسول، قرآن او سنت تعقیب کړي. اصلي هدایت د دلیل، عقل، وحی او نبوي سنتو پیروي ده، نه د ناسم موروثي تقلید.

**په صبر کې هدایت**

د ستونزو، ازمېښتونو او سختیو په مقابله کې صبر وکړه او له الله تعالی څخه مرسته وغواړه. ﴿وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ﴾ [سورةالْبَقَرَةِ،الآية: ۴۵].

صبر په اصل کې د نفس د هوس (هوی) څخه منع کول دي، صبر په قرآن کریم کې درې ډوله ذکرشوی دی:

۱. د ګناهونو پرېښودلو باندې صبر کول، لکه: د شرابو څخه ساتل، د سود خوړلو نه ځان منع کول، د حسد څخه ځان ژغورل. دا هغه ډول صبر دی چې انسان د نفس غوښتنو ته تسلیم نه شي، او د الله د نافرمانۍ نه ځان وژغوري.

۲. د سختیو او بلاوو پر وخت صبر کول، لکه: د ناروغۍ پر وخت صبر کول، د فقر او بېوسۍ زغمل. دا ډول صبر انسان ته د ثواب درجې او الله ته نږدېوالی وربخښي.

۳. د الله تعالی د عباداتو په ادا کولو کې ثابتقدم پاتې کېدل، که څه هم نفس ته درانه وي، لکه: په دوامداره ډول لمونځ کول، د نورو درنو عباداتو ترسره کول چې نفس پرې نه خوشحاله کېږي. دا صبر د تقوی، ثبات، او روحاني کمال نښه ده.

د مسلمان څخه چې صبر غوښتل کېږي: چې په طاعتونو صبر وکړي، له ګناهونو ځان لرې وساتي، مصیبتونه وزغمي او خپل نفس په ایمان باندې ثابت وساتي. دا ډول صبر د مسلمان د بشپړ ایمان، قوت او تقوی نښه ده. (عثماني، ۱۴۴۰ه ق، ج۱ ص۳۸).

**هدایت د الله تعالی په ذکرکې**

الله تعالی د ذکر په اړه فرمایي:﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ﴾ [سورةالْبَقَرَةِ،الآية: ۱۵۲].

د الله ذکر په حقیقت کې اتباع ده چې د الله حکم او فیصله په حقیقت کې عملي کړي، کچېري څوك مخالف د اتباع څخه وي، حکم د حلال یا حرام نه عملي کوي دا په حقیقت کې ذکر د الله نه کوي د ا سرې مخالف د ذکر څخه د الله دی. همدارنګه د الله د ذکر په مقابل کې ټوله شیان په نسیان او هیري ګرځوي. الله تعالی د خپل بنده سره مل دی ترڅو بنده ذکر او یاد د الله ساتي. الله جل جلاله

ارشاد کوي: تاسو زما د احکامو اطاعت وکړئ، ز به تاسوته ثواب در کړم. ( فمن لم يطعه لم يذکر ه وان کثر صلوته وتسبيحه). (عثماني، ۱۴۴۰ه ق، ج۱ ص۴۱۹).

**هدايت په پوره دين کې**

ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! تاسې ټول په پوره ډول اسلام ته دننه شئ (اسلامي ژوند غوره کړئ). ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً﴾ [سورة البقرة،الآية: ۲۰۸]. د هغه ټول احکام ومنئ؛ داسې مه کوئ چې يو حکم ومنئ او بل رد کړئ – لکه دا چې روژه ونيسئ خو زکات ورنه کړئ، دا غلطه ده. اسلام يو بشپړ نظام دی، نه تجزيه کېدونکی، په اسلام کې نيمګړتيا نه منل کېږي؛ هغه بايد په عقيده، عبادت، اخلاق، معاملات، ټولنيز ژوند کې پوره ومنل شي. دا آيت موږ ته وايي چې الله ته تسليمېدل يوازې په ظاهري بڼه نه، بلکې په ټول ژوند کې وي. ادخلوا في السلم كافة": يعنې اسلام يوازې د عبادت يا ظاهري اعمالو نوم نه دی، بلکې هر اړخيز نظام دی. مسلمانان بايد په فکر، عقيده، عمل، سياست، اقتصاد او ټولنه کې اسلامي اصول ومني.

(أَنْ يَعْمَلُوا بِجَمِيعِ شُعَبِ الْإِيمَانِ وَشَرَائِعِ الْإِسْلَامِ). (ابو الفداء،۱۴۱۹ه ق، ج۱ ص۴۲۲). اسلام ته په ټوله مانا داخلېدل د مؤمن لازمي غوښتنه ده، نه يوازې په عبادتونو، بلکې د ژوند په هر ډګر کې بايد د اسلام پيروي وشي. د قرآن کريم له عمومي پيغامونو څخه دا دري دعوتونه اخذ شوي:

۱. (أن إيمانهم كان باللسان فقط، فيُطلب منهم الإيمان الحقيقي بالقلب). ځينې کسانو به په خوله ايمان ښکاره کوی، خو زړونو کې يې شک او انکار و. قرآن کريم هغوی ته امر کوي چې رښتينی، قلبي ايمان راوړي، نه يوازې د ژبې دعوی.

۲. (أن إِيمانهم كان ببعض الأنبياء كعيسى، فليؤمنوا أيضاً بمحمد صلى الله عليه وسلم). يوشمېر انبيا منله، خو رسول الله(صلى الله عليه وسلم) يې نه مانه. قرآن هغوی ته وايي: په ټولو پېغمبرانو ايمان راوړئ ايمان نيمګړی نه کېږي.

۳. (الأمر بالثبات والاستمرار على الإيمان وعدم الارتداد). هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی، امر شوی چې په خپل ايمان باندې ټينګ پاتې شي، شاتګ (ارتداد) ونه کړي، او په ايمان استقامت وکړي. (أن إيمانهم كان باللسان فقط، فيطلب منهم الإيمان الحقيقي بالقلب. أن إِيمانهم كان ببعض الأنبياء كعيسى فليؤمنوا أيضا بمحمد(صلى الله عليه وسلم). الأمر بالثبات والأستمرار على الإيمان وعدم الأرتداد). ماتريدی، ۱۴۲۶ه ق، ج۲ ص۱۰۳). مطلب: چې ژبه، زړه (عقيده) او عمل ټول سره يو کړي. دا دري

خبرې د قرآن د دعوت بنیاد تشکیلوي: ایمان باید قلبي وي. باید په ټولو انبیاؤ ایمان وي. باید د ایمان په لاره کې ثبات وي.

**پایله**

د البقرة سورت د آیتونو له تحلیل او مطالعې څخه دا پایله ترلاسه کېږي چې هدایت د الله تعالی له لوري یو ستر الهي نعمت او ځانګړې ډالۍ ده، چې هر انسان ورته نه رسېږي، بلکې یوازې هغه کسان د دې نعمت مستحق ګرځي چې د ایمان، تقوا، اخلاص او د الله تعالی د اوامرو د اطاعت صفات ولري، قرآن کریم څرګندوي چې هدایت د انسان د زړه له صفا، پاک نیت او د الهي لارښوونو له منلو سره ژوره اړیکه لري، کله چې انسان په صداقت سره د حق لټون وکړي او د الله تعالی د احکامو پیروي وکړي، نو الله تعالی یې زړه د هدایت په رڼا روښانه کوي او د سمې لارې لور ته یې رهبري کوي. په دې سورت کې هدایت په ځانګړې ډول د متقینو لپاره بیان سوی دی .متقین هغه کسان دي چې پر غیب ایمان لري، لمونځونه قائموي، د الله تعالی له ورکړل سوي نعمتونو څخه د خیر په لاره کې انفاق کوي، پر پیغمبرانو او اسماني کتابونو ایمان لري او پر آخرت یقین لري، دا صفات د هدایت بنسټیز عوامل ګڼل کېږي، ځکه چې ایمان او نېک عمل د انسان روح پاکوي او هغه د الله تعالی د رضا لور ته رهبري کوي. له دې بحث څخه دا هم څرګندېږي چې هدایت یوازې یوه نظري پوهه نه ده، بلکې یو عملي حالت دی چې د انسان په عقیده، عبادت، اخلاقو او ټولنیز چلند کې بدلون رامنځته کوي، له همدې امله هدایت د انسان د دنیا او آخرت د بریا بنسټ ګڼل کېږي او د ټولنې د اخلاقي او معنوي اصلاح لپاره مهم رول لري.

**دخېړنې محدودیتونه:**

۱. دا څېړنه یوازې د قرآن کریم د سورت البقرة پر آیتونو تمرکز لري، او د نورو سورتونو دهدایت اړوند مطالبوته یې مستقیمه پاملرنه نه ده کړې.

۲. د هدایت په اړه د عقلي، یا کلامي بحثونه له دې څېړنې څخه ایستل سوي.

۳. د وخت منابعو، او فزیکي امکاناتو د محدودیت له امله دا څېړنه تر ډېره توصیفي او تحلیلي ډول لري نه تجربیي.

**وړاندیزونه(سپارښتنې)**

۱- دسورت البقرة هدایت محوره آیتونو ته عملي توجه وشي.

۲- په تعلیمي نصاب کې دې د قرآني هدایت مفاهیمو تدریس ته پراخه ونډه ورکړل شي.

۳- د تقوا، صداقت او اطاعت پربنسټ د اسلامي شخصيت روزنه وده ومومي.

۴- د نفاق، کبر، تعصب، او دحق انکار خلاف جدي فکري مبارزه وشي.

### اخځليکونه

القرآن کريم

1. ابن فارس، احمد، ۱۴۲۸«مقايس اللغة» بي طا لبنان بيروت:دارالفکر.
2. ابن منظور، محمدبن مکرم. ۱۴۱۴«لسان العرب» الطبعة الثالثة. لبنان بيروت: دار صادر.
3. ابو الفداء، اسماعيل بن عمر. ۱۴۱۹«تفسير ابن کثير» الطبعه الاولی، مصرقاهرة:مکتبة المعرفت
4. ابوشهبه، محمد، ۱۴۲۳« المدخل لدراسة القرآن» لطبعة الرابعة، مصر قاهرة: مکتبة السنة.
5. بغوي، حسين، ۱۴۲۰«تفسير بغوی» الطبعه الاولی، لبنان بيروت: داراحياء التراث.
6. راغب، اصفهانی، حسين. ۱۴۳۰«مفردات القرآن» الطبعه الثانيه، لبنا بيروت: دارالقلم
7. راغب، اصفهانی، حسين. ۱۴۳۰«مفردات القرآن» لبنا بيروت: دارالقلم
8. سمرقندي، نصربن محمد. ۱۴۱۳« تفسير سمرقندي بحرالعلوم» لبنان بيروت: دارالکتب العلمية
9. صابوني، محمدعلی.۱۳۸«صفوة التفاسير» الطبعه الثانية پاکستان کوئټه: مکتبة حنفية.
10. طبري. محمد. ۱۴۲۲«تفسير طبري»الطبعه الاولی، مصر قاهرة: دارالقلم الطيب.
11. عثمانی، محمد شفيع. ۱۴۴۰«معارف القرآن» الطبعة الرابعة ۴. کوئټه: مکتبه حنفيه.
12. فخر رازي، محمدبن عمر،۱۴۰۱«تفسير فخرالرازی» الطبعة الثانية لبنان بيروت:دارالفکر.
13. قرطبي، محمدبن احمد. ۱۴۰۱« الجامع لاحکام القرآن».الطبعه الرابعه، لبنان بيروت:دارالفکر
14. قرطبي، محمدبن احمد.کال ۱۴۰۱ هق«الجامع لاحکام القرآن» بي طا لبنان بيروت: دارالفکر
15. ماتريدی، ابومنصور، محمد. ۱۴۲۶ «تاويلات اهل سنت» لبنان بيروت: دارالکتب العلميه.
16. نسفی، عبدالله، ۱۲۷۹«مدارک التنزيل وحقائق التأويل» مصر قاهرة:دارالقلم الطيب.

.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

| | | |
|---|---|---|
| **Volume:2** | **Issue: 2** | **Year:1404** |